بسم الله الرحمن الرحیم

# هرات ولایت

## د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست

## د حقوقي ملاتړ آمریت

علمي او تحقیقي مقاله

# په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوي پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسئولیت

لیکونکی

عبدالحمید ظهیر د نړیوالو حقوقو ماستر او  د هرات ولایت کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست د حقوقي ملاتړ آمر

۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشت

# لنډيز

مهاجرت یو له پخوانیو او ټولنیزو پدیدو څخه ده چې د ځمکې پر مخ د هیوادونو تر منځ د رسـمي پولو له رامنځ ته کیدلو سره سـم را منځ ته شـوی او ادامه لري، یاده پدېده نن ورځ د بشرـي حقونو یۀ له مهمو او جنجالي مؤضـوعاتو څخه شـمیرل کېږي سریېره پردې چې د مهاجرینو لپاره په نړیواله کچه زیات کار شـــوی او د مهاجرینو د حقونو خوندیتوب په موخه نړیوال ســـندونه او کنوانســـیونونه رامنځ ته شـــوي دي خو بیا هم هر هیواد د مهاجرینو په وړاندې د خپل میل او منافعو په نظر کې نیولو سره داسې اعمال ترسره کوي چې د دیني او وضـــعي قوانینو له مخې د بشرـــ حقونو نقض ګڼل کیدلای شي.

بدبختانه په دي لړۍ کې یو شـــمیر زیات افغان مهاجرین هم د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې د دغه ډول کړنو قرباني شـــوي او کېږي په ځانګړې توګه په ګاونډیو هیوادونو کې، په همدې موخه په یاد تحقیق کې د مهاجرت په پیژندنه او اړونده مفاهیمو، په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان مهاجرینو په حقوقي وضعیت، د افغان مهاجرینو هیواد ته د راستنیدو په برخه کې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په مسئولیتونو او داسې نورو مؤضوعاتو بحث تر سره شوی ده.

<u>مهمې اصـطلاح ګانې:</u> مهاجرت، نړیوال سـندونه، ګاونډي هیوادونه، په زور سره شړل، سـیاسي ګټه اخیستنه، کوربه او متبوع دولت.

# سریزه

الحمدالله رب العالمین و العاقبة اللمتقین و الصـلات و السـلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و اصحابه اجمعین. و بعد!

په تاریخي لحاظ که وکتل شي د نړۍ تقریباً د ټولو هیوادونو یؤه ډله وګړیو په مختلفو وختونو کې له خپلو اصلي هیوادونو څخه نورو هیوادونو ته مهاجرتونه تر سره کړي دي، چې یاد مهاجرتونه او له هیواد څخه جلاوالی هم بیلابیل عوامل لري، لکه اقتصادي، فرهنګي، استعماري، سیاسي او داسې نور، چې تر ټولو مهم مهاجرت په خپل هیواد کې د جنګ، بیروني اشغال، نسل وژنې او داسې نورو غیر انساني کړنو له امله د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه د نړۍ نورو هیوادونو ته تر سره کیږي او زیاته برخه یې لومړي سر کې ګاونډیو هیوادنو ته مهارجرتونه کوي په دي خاطر ګاونډي هیوادونه د سکونت او مهاجرت لپاره ټاکل کیږي، چې یاد هیوادونه د فرهنګي مشترکاتو، فاصلې نژدې والي، کمو لګښتونو او داسې نورو عواملو له مخې موثر تمامیږي.

همدارنګه د ګاونډیتوب اصـل له مخې هم هغه هیوادونه چې د ګاونډي هیواد اتباع یې په سخت حالت کې قرار ولري په اخلاقي لحاظ ځان مسـول ګڼي، تر څو د هغوی ژوند ژغورلو په موخه ځای او د لنډ وخت لپاره پناه ورکړي، ولې په اوږد مهاله کې دغه دوستي او همکاري په تقابل، د اړیکو په خرابوالي رقابتونو او سیاسي فشارونو واردولو اوړې، چې د نړۍ په کچه پدې برخه کې زیات مثالونه شتون لري. د دغه ډول حالاتو رامنځ کول په دواړو هیوادونو پورې اړه لري، ځکه چې له یو طرفه پناه ورکونکې دولت د مهاجرینو له شـتون څخه په اوږد مهاله کې په تنګ راځي او په پایله کې له مهاجرینو څخه په بیلابیلو ډولونو ناوړه ګټه اخلې د مثال په توګه د مهاجرینو په متبوع دولت د برلاسي او کنترول په موخه د هغوي په اتباعو باندې په خپل هیواد کې مختلف فشارونه واردوي، تر څو یې غوښـتنې و منل شي، له بله طرفه د مهاجرو له شـتون څخه ډیرې اقتصـادي منافعې تر لاسه کوي، چې دغه منافع هم له مرسته کوونکو هیوادونو او سازمانونو څخه تر لاسه کیږي او هم د مهاجرو له ورځنیو مصارفو او اقتصادي فعالیتونو، چې په کوربه هیواد کې یې تر سره

کوي، ولې بیا هم کوربه هیوادونه د مهاجرینو له موجودیت څخه غلطه سیاسي او ناوړه بشري ګټه اخلي.

زمونږ ګران هیواد افغانســتان د نړۍ په یو داسې مؤقعیت کې قرار لري چې همیشــه د نړۍ زبر ځواکونو له لوري د اشغال لاندې راغلی، ډیر انساني او مالي زیانونه یې لیدلي او ډیر هیوادوال مو له دا څه باندې څلورو لســیزو د نړۍ په مختلفو هیوادونو، په ځانګړې توګه ګاونډیو هیوادونو کې مهاجرت کولو ته اړ کړل شــوي دي، چې د نورو عواملو تر څنګ د دغه مهاجرتونو اصــلي لامل د نړیوالو زبر ځواکونو تجاوز او متواتر اشـغالونه دي، چې په تیره یوه پیړۍ کې د نړۍ ۳ سـترو قدرتونو تر تیري او تجاوز لاندې راغلی یوو او ډیر انســانان یې له خپل اســاسي حق چې د ژوند کولو حق ده محروم کړي او په پایله کې مو یؤ زیات شــمیر هیوادوالو د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه ګاونډیو هیوادنو ته مخه کړې ده.

دا چې ګاونډیو هیوادنو په لومړي سر کې افغان مهاجرو سره انســاني رویه کړې او پناه یې ورکړې د قدر وړ کړنه ده او باید قدر داني یې وشي، ولې په هغه ډول چې لازمه وه دغه میلمه پالنه یادو هیوادونو په سمه او مناسبه توګه پای ته ونه رسوله. نن ورځ هم په پاکستان او هم ایران هیواد کې زمونږ زیات شمیر هیوادوال له سختو حالاتو سره مخ دي، لکه زنداني کېدل، د اموالو مصادره، د یو برده او غلام په ســترګه ورته کتل او بالاخره د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف په زور سره له یادو هیوادونو څخه بدون له یو منظم پلان او برنامې شړل، بنأً یاده مقاله دغه او دې ته ورته نورو مواردو راســپړلو او حل لارو پیداکولو په موخه لیکل شــوې او د عملي کولو لپاره یې د اړونده برخې قدرمنو مسولینو او ګرانو هیوادوالو ته د مطالعې لپاره وړاندیز کیږي.

په درنښت

# د مطالبو لړلیک

عنوان

مخ


1: کليات او مفاهيم.......................................................................... 1

1-1: د مهاجرت مفهوم او پېژندنه.......................................................... 1

1-2: د مهاجرت ډولونه.......................................................................... 2

1-2-1: قانوني مهاجرت............................................................................ 2

1-2-2: غير قانوني مهاجرت...................................................................... 2

1-3: له افغانستان څخه د مهاجرت کولو عمده لاملونه .................................... 3

1-3-1: جبري عوامل (د ژوند ژغورل) ........................................................... 3

1-3-2: تجارتي او اقتصادي عوامل.............................................................. 3

1-3-3: ټولنيز، سياسي او فرهنګي عوامل...................................................... 4

1-4: د افغان مهاجرينو لپاره پناه ورکونکي هيوادونه........................................ 5

1-4-1: ګاونډي هيوادونه ........................................................................... 5

1-4-2: د سيمې او نړۍ هيوادونه................................................................. 5

2: په ګاونډيو هيوادونو کې د افغان مهاجرينو حقوقي وضعيت............................... 6

2-1: ټولنيز ژوند.................................................................................. 6

2-2: په ګاونډيو هيوادونو کې د افغان کډوالو موقف او حيثيت ................................ 7

2-3: په کار ځای کې د افغان مهاجرينو حالات.................................................. 8

2-4: ملکيت او کورني مسايل.................................................................... 8

2-5: د تګ راتګ، مذهب او نظر څرګندؤلو آزادي.............................................. 8

2-6: اساسي خدمتونو ته لاس رسی.............................................................. 9

2-6-1: تعلیم او تحصیل............................................... 9

2-6-2: روغتیا ........................................................10

2-7: له افغان مهاجرینو څخه ناوړه سیاسي او اقتصادي ګټه اخیستنه......................10

2-7-1: نورو هیوادونو ته د افغان مهاجرینو لیږل او له هغو څخه ناوړه استفاده.......11

2-7-2: د افغان مهاجرینو څخه د ګاونډیو هیوادونو اقتصادي منفعت تر لاسه کول..12

2-7-3: له ګاونډیو هیوادونو څخه د افغان مهاجرینو ایستلو طریقه او روش ..........13

3: د ګاونډیو هیوادونو له لوري په یو واري ډول د مهاجرینو راویستلو اغیزې او عواقب ...14

4: له ګاونډیو هیوادنو څخه د افغان مهاجرو باعزته راستنیدلو لارې چارې ..................15

4-1: هغه مسئولیتونه چې افغان حکومت پورې اړه لري.......................................15

4-2: هغه مسئولیتونه چې ګاؤندیو هیوادونو پورې اړه لري...................................17

4-3: د افغان مهاجرو او بیرته راستنیدونکو برخه کې د نړیوالې ټولنې ونډه ..................18

5: له افغانستان څخه د بیا مهاجرتونو مخنیوي لارې چارې ..........................19

5-1: په هیواد کې د تل پاتې او سرتاسري امن او ټیکاو رامنځ ته کول......................19

5-2: عامه پوهاوی.............................................................19

5-3: د تعلیمي نهادونو تقویه او کاري فرصتونو برابرول.....................................21

5-4:د حکومت او خلکو تر منځ د فاصلو له منځه وړل ..................................21

5-5: په لوړ رتبه بستونو کې د صادقو او مسلکي کدرنو ګمارل ..........................23

6: فرصتونه او ننګونې..........................................................24

6-1: فرصتونه..............................................................24

6-1-1: د اسلامي امارت دقوي عزم او ارادې موجودیت.....................................24

6-1-2: د نظام او مهاجرینو مجبوریت.......................................................24

6-1-3: په هیواد کې د مرکزي حکومت او سرتاسري حاکمیت موجودیت...........25

6-1-4:  له ګاونډیو هیوادو څخه د مهاجرینو په زور سره ویستلو مقابل کې له خپلو طبعي منابعو د متقابل عکس العمل په توګه کار اخیستل.........................................................25
6-1-5:  د افغان مهاجرو له علمي کدرونو او سرمایو څخه موثره استفاده..............26
6-2:  ننګونې.............................................................................................26
6-2-1:  په یو واري توګه د مهاجرینو په زور راویستل او کوربه ټولنو باندې تاثیرات ...26
6-2-2:  د هیواد په داخل کې د امکاناتو کمښت..................................................26
6-2-3:  د نړیوالو له لوري د حکومت په رسمیت نه پیژندنه (سیاسي انزوا) ...........27
6-2-4:  نړیوال بندیزونه او سترو پروژو نه پلي کیدل (اقتصادي انزوا)...................27
6-2-5:  د مهاجروینو د بیرته راستنیدلو لپاره د یو منظمې او هر اړخیزې پالیسۍ نه موجودیت.........................................................................................27
7:  حل لارې او وړاندیزونه ..............................................................................28
پایله..........................................................................................................30
د ماخذونو لړلیک............................................................................................31

## 1: کلیات او مفاهیم

په دې برخه کې به لومړی پر مهاجرت، د مهاجرت اړوند مفاهیمو، مهاجرت ډولونو او مهاجرت عواملو بحث تر سره او یادو مفاهیمو پر پیژندنه به د بیلابیلو عنوانونو لاندې رڼا واچول شي.

### 1-1: د مهاجرت اړوند مفاهیم او اصطلاحات

الف- مهاجر: هر هغه شـــخص چې د شـــدیدو او خطرناکه حوادثو د رامنځ ته کیدو له ویرې د خپل ځان، مال او عزت ژغورنې په موخه د خپل اصـلي هیواد له پولو ځخه بهر نورو هیوادونو ته پناه وړي عبارت له مهاجر ځخه ده.

ب- پناه اخیســتونکی: هغه شـخص ته ویل کېږي چې د نژداي، قومي، ژبني، سـمتي او داسې نورو تبعیضـونو سره مخ وي او یا هم په ټولنیزو او سـیاسي ډلو او سـازمانونو کې د غړیتوب له امله خطر ورته متوجه وي، په همدې اســـاس خپل اصـــلي هیواد ترک، په دویم او دریم هیواد کې د پناه غوښتونکې شي.

ت- پردې (بیګانه): ټول هغه وګړي چې په کوم هیواد کې ژوند کوي (کوربه هیواد) خو د هغه هیواد تابعیت ونلري، هغه که د مقیم، پناه غوښـــتونکې، ګرځندوی او یا هر هدف په موخه په اختیاري او غیر اختیاري توګه هلته تللی وي عبارت له پردې یا بیګانه ځخه ده. (د نړیوالو حقوقو موسسه 1892 کال).

ث- اواره: هغه ډله وګړي چې د جنګ، قحطی او طبعي پیښو له امله مهاجرت او یا بیځایه کېدلو ته مجبور شي عبارت له اواره او بیځایه شـــوو ځخه دي، چې په داخل د هیواد کې له یوه ځایه بل ځای ته کوچېږي او یا هم له مرزونو ځخه بیرون نورو هیوادنو ته ځي. دغه ډله وګړي نظر نورو مهاجرو ته په لوړه کچه د بشري مرستو لاندې نیول کېږي او کوربه هیوادونه ډېره توجه ورته کوي.

ج- بیرته راســـتنیدونکي: هغه ډله وګړي چې خپل اصـــلي هیواد یې د عمومي تاوتریخوالي له امله ترک کړي وي او بل هیواد ته د مهاجر په توګه تللي وي، کله چې بیرته خپل اصلي هیواد ته راستنیږي عبارت له بیرته راسـتنیدونکو ځخه دي، چې د دوي بیرته راسـتنیدنه به یا په خپله خوښـه او یا به د کوربه هیوادنو له لوري په زور سره راویستل کېږي.

د- کوربه ټولنې: په داخل د هیواد کې هغه ټولنې چې بیرته راستنیدونکو یا داخلي بیځایه شویو ته په خپله غیږ کې ځای ورکوي او د سرپناه ورکولو زمینه ورته برابروي عبارت له کوربه ټولنو څخه دي.

و- ګاونډي هیوادونه: افغانســـتان له پنځه ګاونډیو هیوادونو (ایران، ترکمنســـتان، ازبکســـتان، تاجکستان او چین) سره رسمي او د پاکستان له هیواد سره غیر رسمي او جبري فرضي کرښه د دیورند په نوم لري چې د مختلفو عواملو په اساس د تاریخ په بیلابیلو وختونو کې افغانان یادو هیوادونو ته مهاجر شوي دي ولې اکثریت برخه یې د ایران او پاکستان په هیواد کې میشت دي بناً په یاد تحقیق کې د ګاونډیو هیوادونه څخه موخه هم همدا دوه هیوادنه (پاکستان او ایران) دي.

## 1-2: د مهاجرت ډولونه

معمولاً نن ورځ مهاجرتونه په دوه لویو برخو ویشـــل شـــوي دي چې عبارت دي له قانوني او غیرقانوني مهاجرتونو څخه.

### 1-2-1: قانوني مهاجرت

هغه وګړي چې په کوربه هیواد کې د اوسـیدلو قانوني سـند ولري عبارت له قانوني مهاجرو څخه دي په دي کټګورۍ کې هغه کســـان شـــامليږي چې د کوربه هیواد ټول مقررات مراعت کړي، کوربه هیواد ته داخليدل، اوسـيدل، او فعاليت کول يې د قانوني سـند لرلو په اساس تر سره کېږي، د دغه ډله وګړو په اړه د کارګرانو څخه د ملاتړ نړیوال کنوانســیون په ۵ ماده کې ذکر شــوي، (هغه مهاجر چې په کوربه هیواد کې د قانوني ســـند په لرلو سره ژوند کوي د ټولو حقوقو نه يې ملاتړ کېږي لکه د کار کول، مزد، اوســـيدل او داسې نور) په داسې حال کې چې غير قانوني مهاجرينو څخه دغه ډول ملاتړ نشي تر سره کېدلای.

### 1-2-2: غیر قانوني مهاجرت

ټول هغه وګړي چې بدون له کوم سـند څخه کوربه دولت کې ژوند کوي هغه که په هر دلیل وي عبارت له غیر قانوني مهاجرو څخه دي، داسې هم پيښـــيږي چې یو تعداد وګړي لومړي سر کې د قانوني ســـند په لرلو سره بل هیواد ته مهاجرت وکړي ولې په ســـند کې د وخت له پای ته رســـيدلو

وروسته هغه نه تمدیدوي بناً د نه تمدید په صورت کې یاد وګړي هم د غیر قانوني مهاجرو په حیث شمیرل کېږي چې اکثره یې بیا له بیلابیلو ستونزو سره مخ او خپل قانوني حقونه له لاسه ورکوي.

### 1-3: له افغانستان څخه د مهاجرت کولو عمده لاملونه

مهاجر او مهاجرت کول یوه نړیواله پدېده ده چې د بیلابیلو هیوادونو وګړي یې د بیلابیلو عواملو په اساس له خپل اصلي هیواد څخه نورو هیوادونو ته تر سره کوي دا چې د افغانستان وګړو ولې او د څه لپاره مهاجرتونو ته مخه کړې او یا یې کوي ممکن زیات عوامل ولري ولې مهم لاملونه یې په لاندې ډول دي.

#### 1-3-1: جبري عوامل (د ژوند ژغورل)

دا یو جوت او معلومداره حقیقت ده چې افغانسـتان او افغانان تقریباً له نیمي پیړۍ راپدې خوا د نړۍ زبر ځواکونو له لوري تر یرغلونو او تجاوزنو لاندې راغلي دي چې د یادو یرغلونو په پایله کې یې ډیر زیات ځاني او مالي زیانونه لیدلي دي، ځکه نو په میلیونونه افغان وګړي د خپل ژوند او عزت ژغورنې په موخه جبراً دې ته اړ کړل شـــوي چې خپل مال، کور، کلی، او هیواد پریږدي، او مهاجرت ته مخه کړي، نن ورځ چې کوم افغانان د مهاجرو په توګه په نورو هیوادونو کې ژوند کوي او له بیلابیلو ســـتونزو څخه کړیږي د هغه 80 ســـلنه یې د بهرنیانو له لوري په ځانګړې توګه د یرغلګرو هیوادونو (شـورؤي، امریکا او ناټو غړو) له خوا د ظالمانه یرغلونو له امله دې ته مجبور شـوي چې مهاجرت ته مخه کړي، دغه ډله وګړي اکثراً ګاونډیو هیوادنو ته مهاجر شـوي دي چې لویه برخه یې د ایران او پاکستان هیوادنو کې میشت دي.

#### 1-3-2: تجارتي او اقتصادي عوامل

یو تعداد افغانان د نورو هیوادونو د وګړو په څیر د خپل ژوند ښـــه کولو، اقتصـــادي منافعو تر لاســـه کولو، او داسې نورو هدفونو په موخه له هیواد څخه بهر په نورو هیوادونو کې مهاجرتونو ته مخه کړې چې دغه ډله وګړي د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې ژوند کوي خو اکثریت برخه یې په غربي هیوادونو په ځانګړې توګه اروپا کې میشت دي.

### 1-3-3: ټولنيز، سياسي او فرهنګي عوامل

يوه ډله افغانانو د نورو سـياسي، او فرهنګي دلايلو په اسـاس مهاجرتونو ته مخه کړې د مثال په توګه د هيواد هغه ولايتونه او سـيمې چې د ايران هيواد سره پوله لري له ايراني وګړو سره تګ راتګ لري، د هغوي ټولنيز او فرهنګي تاثيراتو وربانديې سـيوری غوړولی، حتی خپلولۍ يې سره کړي نو د همدې اړيکو د بقا او پايښت په موخه يې هغه هيواد ته مهاجرت کړې او تر نن ورځې همله ميشت دي، همدارنګه هغه سـيمې چې د ديوردند فرضي ظالمانه کرښې لاندې راغلي او په زور او جبر د افغانسـتان له خاورې څخه جلا شـوي او نن ورځ د خيبر پښـتونخواه تر عنوان لاندې پيژندل کيږي، اکثره افغانان هلته ميشـت دي چې د پولې هغه غاړې اوسـيدونکو سره نه جلاکيدونکې اړيکې لري د غم او خوښۍ اکثريت مؤضـوعات يې سره يوځای دي ټولنيزې او فرهنګي عميقې اړيکې سره لري چې حتی د جلا کولو تصـور يې نشي. کبدلای بناً د همدې اړيکو دبقا او پايښـت په موخه له پولې هاخوا نن ورځ د مهاجرو تر عنوان لاندې ژوند کوي.

يو تعداد هغه افغانان چې اقتصـادي وضـعيت يې ښـه ده د خپلو اولادونو د روښـانه ژوند او په نړيوالو معيارونو برابرو عصرـي زده کړو ترلاسـه کولو په موخه له هيواد څخه وتلي او نورو غربي هيوادنو کې د مهاجرو په توګه ميشت شوي دي چې دغه ډله د مهاجرو ډيره کمه برخه تشکيلوي.

د دې تر څنګ له څه باندې څلورو لسيزو راپدې خوا په افغانسـتان کې د حکومتونو او نظامونو بيلابيل ډولونه تجربه او وکاريدل چې ځينې يې د کمونيزم او ځينې يې د ديموکراسۍ د مفکورې لاندې وه نو يوه ډله وګړي د وخت د سـياسي رژيمونو د مخالفينو په نوم د بې رحمانه زورونې لاندې وه او تاوتريخوالي لاندې راغلل نو دې ته مجبور شـول چې د خپل ژوند ژغورنې په موخه د سـياسي مهاجرينو په توګه له هيواد څخه بهر او نورو هيوادونو کې د پناه خوښـتونکي شي، دغه ډله هم نسـبتاً کم دي چې تر نن پورې د نړۍ په بيلابيلو برخو (آسـيايي، عربي، اروپايي، امريکايي ملکونو او يا هم استراليا) کې ژوند کوي.

## 1-4: د افغان مهاجرینو لپاره پناه ورکونکي هیوادونه

افغانان د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د مهاجرینو په توګه ژوند کوي چې په مهمو لاملونو یې پورته وغږېدولو دا چې په کومو هیوادونو کې ژوند کوي په دوه کټګوریو یې ویشوو.

### 1-4-1: ګاونډي هیوادونه

له څلورو لسیزو ناخوالو را پدې خوا ډېر افغانان په نژدې ګاونډیو هیوادونو کې میشت شوي خو ډېره برخه یې په دوه ګاونډیو (ایران او پاکستان) هیوادونو کې میشت دي چې د ملګرو ملتونو سازمان د معلوماتو په اساس (8) میلیونه افغان مهاجر په ایران او پاکستان هیوادونو کې میشت دي د یادو ارقامو له ډلې (3.5) میلیونه په پاکســـتان او (4.5) میلیونه د ایران په هیواد کې ژوندکوي، له دي جملې تقریباً (1.5) میلیونه مهاجر په پاکســـتان کې په قانوني او (2) میلیونه نور یې بدون له قانوني سند څخه اوسیږي او (2.6) میلیونه افغان مهاجر په ایران کې په قانوني او (1.9) میلیونه نور یې له سند پرته هلته ژوند کوي ولې د ایران هیواد د کورنیو چارو وزارت د ارقامو له مخې  په دي هیواد کې له (5 تر 6) میلیونه افغان مهاجر شتون لري.

د یادولو وړ ده چې د نړیوالو اصـــولو او قوانینو له مخې  هیڅ هیواد دا حق نلري چې د ســـند نه لرونکي مهاجر دې په ظالمانه توګه له خپل هیواد څخه په اجباري توګه وباسي ولې متاسفانه زمونږ ګاونډیو هیوادونو د یادو قوانینو، اسلامي شرعیت او اخلاقي مسئولیت په نظر کې نه نیولو سره خپلو یو طرفه او ظالمانه کړنو ته دوام ورکړی او په ډېره بې رحمۍ سره یې د افغان مهاجر د راویســتلو لړۍ پیل کړې ده په ځانګړې توګه د پاکستان هیواد.

### 1-4-2: د سیمې او نړۍ هیوادونه

له ګاونډیو هیوادونو ورهاخوا د نړۍ په مختلفو هیوادنو کې یو زیات شـــمیر افغانان د کډوالو په توګه ژوند کوي چې د اســـیایي هیوادنو له ډلې په عربي ټولنه، مرکزي آســـیا، روسې او ترکې هیوادونو کې زیاته برخه ژوند کوي، همدارنګه په اروپایي، امریکایي هیوادونو او یو شـمیر یې په اسـترالیا او نړۍ نورو برخو کې میشت دي.

## 2: په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان مهاجرینو حقوقي وضعیت

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه د ګاونډیو هیوادنو له ډلې زیات افغان مهاجر په ایران او پاکستان هیوادونو کې د مهاجرت شپې او ورځې تیروي نو مونږ به دلته هڅه وکړو چې د دواړو هیوادنو دریځونه د افغان مهاجرو په وړاندې په مختلفو برخو کې روښانه کړو.

### 2-1: ټولنیز ژوند

د پاکستان هیواد یؤ له هغه هیوادونو څخه ده چې له دا څلور لسیزو را پدې خوا افغان مهاجر پکې ژوند کوي، د پاکستان ملت او حکومت افغانانو ته د ځای ورکولو برخه کې مرستې کړي چې باید قدر دانی یې ویشي- خو د دې ډول مرستو ورکړه تر هغه ډیره نده لکه کوم څه چې نن پاکستان د افغانانو له شتون څخه تر لاسه کړي دي په بله معنی که ووایم د پاکستان حکومت او خلکو په ټولنیز، فرهنګي، او اقتصادي پرمختګ کې زیات رول همدې افغان مهاجرو ادا کړی ده. خو بدبختانه په اوسنیو حالاتو کې د افغان مهاجرو په وړاندې د هغو دریځ غیر اسلامي او غیر انساني ده او د مهاجرو له شتون څخه غلطه سیاسي ګټه اخلي، دا باید ومنو چې مهاجر خپل هیواد ته راستانه شي خو په کوم ډول چې نن د پاکستان هیواد دا لړۍ په یؤ اړخیزه بڼه پیل کړې په دې بڼه نه بلکې باید په تدریجي او باعزته توګه دغه پروسه پیل او ادامه یې پیدا کړې وه.

په اوسنیو حالاتو کې افغان مهاجرین ډیر سخت حالت کې قرار لري حتی هغه افغانان چې قانوني اسناد هم لري د امنیتي ادارو له لوري نیول کیږي، اسناد یې له منځ وړل کیږي او په ډیره ظالمانه توګه زنداني او وروسته افغانستان ته پداسې حال کې لیږل کیږي چې اموال، کور کاروبار او هر څه یې په پاکستان کې ورځخه پاتې کیږي.

د پاکستان تر څنګ په بل ګاونډي هیواد ایران کې هم افغان مهاجرو سره ناوړه چلند تر سره کیږي په ځانګړې توګه هغه افغانان چې قانوني سند ونلري د حکومت او خلکو له لوري په توهین آمیزه توګه رفتار، د دویمی طبقې انسانانو په سترګه ورته کتل، همدارنګه په اقتصادي برخه کې اکثره افغانان بانکي خدمتونو ته لاس رسی نلري حتی د قانوني کډوالو بانکي حسابونه تړل کیږي، د سیم کارت اخیستلو، تګ، راتګ او داسې نورو برخو کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

هغه افغانان چې په زور سره را ویستل کېږي د راویستلو په دوران کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي لکه په چټلو او تیارو خونو کې ساتل، کافي خوراک او څښلو اوبو نشتون، د امنیتي موظفینو له لوري توهین، وهل، ټکول، شکنځلې، جنسي- ځورونې او داسې نور غیر اسلامي او غیر انساني کارونه ورسره کېږي.

د 1951 کال جینوا کنوانسیون کې ذکر شوي چې دیني ازادي، کار او د مزد تر لاسه کول تعلیم او تحصیل کول د مهاجرینو له مهمو حقونو څخه دي چې افغانان یې ګاونډیو هیوادونو کې نلري

## 2-2: په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو موقف او حیثیت

په ټولنیزه توګه افغان مهاجر په ګاونډیو هیوادونو کې کوم ځانګړی مقام او حیثیت نلري انساني چلند نه ورسره کېږي، حتی هغه مهاجرین چې قانوني سندونو لرونکي هم وي په ډېره سپکه او توهین امیزه توګه ورته کتل کېږي په ځانګړې توګه د ایران په هیواد کې، هغه مهاجر خو چې قانوني سندونه نلري اصلاً د انسان په سترګه نه ورته کتل کېږي او د ټولنې تر ټولو ټیټه طبقه شمیرل کېږي.

د خپلې دغې لیکنې کره والي په موخه د ایراني ټولنپوه او ټولنیزو مطالعاتو مرکز مرستیال وینا تاسو تا وړاندې کوم داکتر آرش نصر- اصفهاني په خپله مقاله کې لیکي (د ایران هیواد سیاست د افغان کډوالو په وړاندې بدون لدې چې د هغوي سابقه او ټولنیز پیوند په ایراني ټولنه کې په نظر کې ونیسي- په ټولیزه توګه له ښاري حقونو څخه محروم کړي، افغان مهاجر قانوني تبعیضونه تجربه کوي، په ټولنه کې په سپک نظر ورته کتل کېږي چې د حکومت دغې ناوړه کړنې ایراني عوامو ته هم همدا ذهنیت د افغانانو په وړاندې ورکړی ده، حتی هغه افغانان چې په ایران کې تولد شوي او لوي شوي دي ایراني حکومت او وګړي د بیګانه په سترګه ورته ګوري او په ټولیزه توګه غیر له دي چې افغاني میرمن ایراني نارینه سره د واده کولو حق ته لاس رسی ولري هغه هم په ډېره کمه کچه نور هیڅ ډول حقونو ته لاس رسی نشي. پیدا کولای چې مطلق اکثریت یې تر اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي تبعیض لاندې ژوند کوي).

### 2-3: په کار ځای کې د افغان مهاجرینو حالات

اکثره افغان مهاجر په ځانګړې توګه هغه مهاجر چې په غیر قانوني توګه ګاونډیو هیوادونو بالخصوص ایران ته د کار لپاره تللي وي په کاري چاپیریال کې له سخت وضعیت سره مخ دي د مثال په توګه په مختلفو توهین آمیزه نومونو نومول، له کاري ســاعتونو څخه په هغو زیات کار تر سره کول، د ایراني کاریګرو په نســبت کم مزد ورکول، په خپل وخت د مزد نه ورکول او حتی د مزد له ورکړې د کارفرمایانو له لوري انکار او په پای کې دغه ډله وګړي امنیتي ارګانونو ته په لاس ورکول هغه موارد دي چې افغان مهاجر د ایران په هیواد کې ورسره مخامخ کېږي، دغه ډول کړني د نړولو بشري حقونو او نړیوالو قوانینو خلاف عمل شمیرل کیدلای شي.

### 2-4: ملکیت او کورني مسایل

ډیر افغان مهاجر په ګاونډیو هیوادونو کې د منقولو او غیر منقولو اموالو خاوندان دي ولې د یادو هیوادونو له لوري ملکیتونه ورڅخه اخیســتل شــوي او هغوي ته یې د خرڅلاو او یا هم خپلو هیوادونو ته د انتقال زمینه نه ده برابره کړې په ځانګړې توګه د پاکســتان هیواد له لوري په دا ورســتیو کې زیات شــمیر افغانان په ډله ایزه توګه له خپل هیواد څخه راویســتل کېږي چې د اکثریت مهاجرو ملکېتونه، کورني اسـباب او وسـایل یې بي سرنوشـته په یاد هیواد کې ورڅخه پاتې شـوي دي همدارنګه په ایران هیواد کې هم اکثره ایراني امنیتي ادارې په افغان مهاجرو چاپې وهي دوي له خپلې خاورې راوباسي په داسې حال کې چې ټول حســاب کتاب، اموال او کورني اســباب یې ورڅخه پاتې کېږی، همدارنګه د کورنیو مسـایلو برخه کې عدالت او محکمې ته د لاس رسي حق ورڅخه اخیسـتل شوی ده.

### 2-5: د تګ راتګ، مذهب او نظر څرګندؤلو آزادي

د افغان مهاجرو په وړاندې په ګاونډیو هیوادونو، هم پاکستان او هم ایران کې بله مهمه ستونزه د تګ او راتګ په برخه کې ده چې مهاجر نشي۔ کولای په یادو هیوادونو کې په آزاده او ډاډمنه فضـا کې له یو ښـار او ولایت څخه بل ولایت ته سـفر وکړي البته دغه سـتونزه تر ډیره د غیر قانوني مهاجرو په وړاندې ده چې په پایله کې یې ټول اموال او پیسې۔ ورڅخه د پولیسـو له لوري اخیسـتل کېږي او یا

هم په داسې حالت کې له یادو هیوادونو راویســـتل کېږي چې کورنۍ ته د خبر ورکولو اجازه هم نه ورکول کېږي.

مذهبي محدودیتونه تر ډېره په ایران هیواد کې لیدل کېږي د افغان مهاجرینو له موضوع څخه که وړاندې ولاړ شــو حتی اهل تســنن لپاره محدودیتونه پکې وضــعه شــوي او د یو رســمي اجتماع او مسـجد جوړولو په برخه کې له ګڼو سـتونزو سره مخ دي، د افغان مهاجرینو برخه کې باید ووایم چې لومړی عدالت او محکمې ته په اسـانۍ لاره نشي. موندلای ولې که بیا هم د مهاجرو حقوقي او کورني مؤضـوعات محکمې ته وړاندې کېږي د جعفري مذهب په اسـاس ورته رسـیدنه کېږي، بناً د مذهبي ازادۍ په برخه کې هم له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

همدارنګه افغان مهاجر په ګاونډیو هیوادونو کې د بیان او نظر څرګندولو آزادي تقریباً هیڅ نلري ولو که د خپلو بشري حقونو د غوښتلو لپاره وي.

## 2-6: اساسي خدمتونو ته لاس رسی

د ژوند د لومړنیو اړتیاو له پوره کولو وروسـته وګړي چې اسـاسي خدماتو ته اړتیا لري تر ټولو مهم يې روغتیايي او تعلیمي خدماتو ته لاس رسی ده خو افغان مهاجر بیا هم په ګاونډیو هیوادونو کې په هغه توګه چې لازمه ده دغه ډول خدماتو ته لاس رسی نلري.

### 2-6-1: تعلیم او تحصیل

په تعلیمي برخه کې د پاکستان هیواد ډېر سخت قوانین د مهاجرو په وړاندې ندي وضعه کړي او یو تعداد زیات افغان مهاجرو خوشـبختانه په یاد هیواد کې، دیني او عصري زده کړې په تخصـصي توګه تر سره کړي دي ولې د ایران په هیواد کې بیا وضـــعیت دغه ډول نـده او افغـان مهاجرو په وړاندې د زده کړو تر لاسه کولو برخه کې ډېرې ستونزې موجودې دي، د ابتدايي تعلیم حاصلول تر یؤ اندازې شــونې ده خو د لوړو تحصــیلاتو په برخه کې تر ډېره ســتونزمنه ده چې افغان مهاجر دې زده کړې تر سره کړای شي.

**2-6-2: روغتيا**

د پاکستان هيواد کې افغان مهاجر روغتيايي خدماتو تر لاسه کولو برخه کې ډيرې ستونزې نلري او کوم خدمات چې پدې برخه کې پاکستاني وګړو ته تر سره کيږي افغان مهاجر هم ورڅخه برخمن کيدلای شي خو ستونزه د غير قانوني مهاجرو په وړاندې ده چې تر روغتيايي مرکزونو رسيدلو حالت کې له ګڼو ستونزو، نيونو او امنيتي مامورينو له لوري لوټلو سره مخ کيږي. ولې د ايران په هيواد کې دغه ډول امکانات ډير کم دي په ځانګړې توګه هغه مهاجر چې قانوني سندونه نلري په صحي مراکزو کې ګڼې ستونزې لري حتی هغه کسان چې قانوني سند هم لري د ايراني وګړو په توګه د بيمې له سيستم څخه نشي برخمن کېدلای او صحي خدمات په ډيره لوړه بيه ورته تماميږي.

**2-7: له مهاجرينو څخه ناوړه سياسي او اقتصادي ګټه اخيستنه**

د پاکستان هيواد له ميليونونو افغان مهاجر په سياسي او اقتصادي لحاظ ډيره غلطه استفاده کوي د مثال په توګه له غربي ملکونو په ځانګړې توګه هغه سازمانونو چې د مهاجرت په برخه کې فعاليت کوي د کال ميليونونه ډالر پاکستان تر لاسه کوي، همدارنګه دا يو واقعيت ده چې د مهاجرو موضوع يؤه بشري موضوع ده ولې د پاکستان هيواد له افغان مهاجرو د افغان حکومت په وړاندې د اقتصادي ګټې اخيستنې تر څنګ په سياسي معادلاتو کې هم د افغان لوري سره د يو فشار الې په حيث غلطه استفاده کوي چې مهمو مواردو ته يې اشاره کوم.

1 - پر اسلامي امارت د فشار واردول: د پاکستان له لوري داسې انګيرل کيدله چې د اسلامي امارت په واک ته رسيدولو به د دوي هر ډول غوښتنې منل کيږي پداسې حال کې چې اسلامي امارت نن ورځ د يؤ خپلواک او مستقل دولت په توګه په سيمه ايزو او نړيوالو مسايلو کې دريځ غوره کړی او دغه خپلواکي هيڅ دولت ته د زغم وړ نده په ځانګړې توګه پاکستان ته، په اوسنيو حالاتو کې د تحريک طالبان پاکستان موضوع د پاکستان لپاره د يوې مهمې امنيتي ننګونې په توګه متوجه ده چې د پاکستان ټول نظامي او ملکي چارواکي دا تور پورې کوي چې ياده ننګونه د افغانستان له خاورې او لوري څخه دوي ته متوجه ده نو په همدې اساس هره هغه وسيله چې په اسلامي امارت د فشار په توګه پاکستان ته په لاس ورځي ورڅخه استفاده کوي چې يؤ د هغو وسيلو څخه د افغان مهاجرو موضوع ده، د پاکستان هيواد دا کړنه د ټولو شرعي او وضعي قوانينو خلاف عمل ده، پاکستان داسې انګيرله چې افغان حکومت له يو لوري د نړيوالو تر سياسي او اقتصادي بنديزو لاندې ده نو په قصدي توګه يې د مهاجرو ايستلو لړۍ په زور او جبر سره پيل کړه تر څو له يو پلوه په افغان حکومت سياسي او اقتصادي فشارونه لا زيات کړي او له بله

پلوه د اســـلامي امارت په مقابل کې يؤ داخلي کشـــمش، حکومت او خلکو ترمنځ بې باوري او اســـلامي امارت داخلي مخالفينو ته يو بله بهانه په لاس ورکړي، خو الحمدالله تر دې مهاله چې کوم مهاجر را ايســتل شــوي دي د هغو ښــه پذيرايي او د توان تر حده لاس نيوی شــوی او دا مســاله د دې په ځای چې د حکومت او خلکو تر منځ د واټن رامنځ ته کېدو لامل شي کوم چې پاکستان يې ارمان لاره د نژدې کېدو او هيوادنۍ مينې د پالل کيدو باعث شوې ده.

2 - دا يو حقيقت ده چې پاکســـتان په خراب اقتصـــادي وضـــعيت کې قرار لري او د نړيوالو مالي سازمانونو او هيوادونو له لوري حتی قرضه نه ورکول کېږي نو د افغان مهاجرو ايستلو لړۍ يې په دي موخه پيل او ګړندۍ کړه تر څو د نړيوالو ســـازمانونو او مرســـتندويه دولتونو توجه د مالي مرسـتو تر سره کولو لپاره را جلب کړي پر همدې اسـاس له افغان مهاجرو هم اقتصـادي او هم سياسي ګټه پورته کوي.

3 - په دي برخه کې د پاکستان بل هدف په افغانستان کې د يؤ قوي، ځواکمن او خپلواک حکومت د رامنځ ته کېدلو مخنيوی ده، دا موضـــوع د تاريخ په اوږدو کې ښـــه ثابته شـــوي ده په همدې اساس اوس مهال يو ځل بيا کوشش کوي چې د افغانستان اوسني نظام ته هم بهرنۍ او هم په کور دننه ننګونې جوړې کړي تر څو د يو ځواکمن او خپلواک نظام د تشکيل مخنيوی وکړي په همدې لړ کې کوښـــښ کوي چې په يواري توګه ميليونونه افغان مهاجر له خپلې خاورې راوباسي او د هغو د بيا ميشـــت کيدو په برخه کې افغان حکومت تر فشـــار لاندې راولي، تر څو داخلی منازعات ورته رامنځ ته شي، دا هم بايد ووايو چې د ميليونونو مهاجرو راتګ به د اسـلامي امارت حکومت ته يو لويه ننګونه وي او احتمالاً په بعضې حالاتو کې به د ځمکو او ميشـــت کيدو په برخو کې ستونزې راولاړې کړي بناً پاکستان کوښښ کوي چې داخلي، قومي او ټولنيزو مسايلو کې د اختلافاتو رامنځ ته کولو او ژوروالي لپاره هم له مهاجرو غلطه ګټه پورته کړي.

4 - د پاکســـتان په داخل کې اقتصـادي او سـياسي وضـعيت عام ملت ته د منلو نده او ډير خراب حالت کې قرار لري په همدې اساس د دې لپاره چې عامه افکار د پاکستان اقتصادي او سـياسي وضـعيت څخه تغير او بل پلو واړوي د مهاجرو موضــوع يې مطرح کړه او په بيشرمانه توګه يې ميليونونه افغانان له خپلې خاورې را وويستل دا چې پاکسـتان د عامه ملت د تير ايسـتلو لپاره دا ادعا کوي چې اقتصادي ستونزې د مهاجرو له امله زياتې شوي دا يو تير ايستونکی شعار ده ځکه د پاکستان په 242 ميليونې نفوس کې د افغانستان مهاجر ډيره کمه فيصدي تشکيلوي.

**2-7-1: نورو هيوادونو او سيمو ته د افغان مهاجرينو ليږل او له هغو څخه ناوړه استفاده**

د ايران هيواد هم له افغان مهاجرو ډيره غلطه ســـياسي او نظامي اســـتفاده کوي چې مهمه برخه يې د ســيمې د نورو هيوادونو په نيابتي جګړو کې د افغان مهاجرو جذبول دي چې د هغوي له اقتصـــادي کمزورتيا د ټولو نړيوالو اصـــولو خلاف غلطه ګټه پورته کوي په دي برخه کې ډير ګزارشـونه موجود دي چې د سـوری او يمن په جګړو کې اکثريت افغانان ليدل شـوي چې دا ډله

(لشــکر فاطمیون) د ایران هیواد له لوري یادو هیوادونو ته لیږل شــوي دي او په مقابل کې یې د هغوي له کورنیو سره د مالي مرســـتو او اقامې ورکولو وعدې کېږي، د ګاونډیو هیوادونو دا ډول کړنې د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف عمل شمیرل کېږي.

د پاکســتان په هیواد کې هم په مختلفو وختونو کې له افغان مهاجرو دغه ډول اســتفاده شــوي د مثال په توګه د پاکســتان او هند جنګونو کې ولې نن ورځ د پاکســتان په هیواد کې دغه ډول کړنې تر ډیره نه تر سترګو کېږي.

**2-7-2: د افغان مهاجرینو څخه د ګاونډیو هیوادونو اقتصادي منفعت تر لاسه کول**

ګاونډي هیوادونه په ځانګړې توګه د پاکســـتان هیواد د راپورونو له مخې  په ملیاردونو ډالر د افغان مهاجرو په نوم له نړیوالو سازمانونو او خیریه بنسټونو تر لاسه کړي چې دغه پیسې یې تر ډیره د مهاجرو په چارو نه بلکې په خپلو ملي مسـایلو په مصرف رسـولي دي، همدارنګه که په اقتصـادي برخه کې یوه بیلګه وړاندې کړو نو ویلی شـــوو چې که هر افغان مهاجر چې مجموعي رقم یې تقریبا (3.5) میلیونه وګړو ته رســیږي کم تر کمه د ورځې یو ډالر مصرــف کړي نو یواځې د مهاجرو د ژوند لومړنیو اړتیاوو پوره کولو برخه کې د ورځې (3.5)  میلیونه دالر اقتصادي ګټه رسوي او که د پانګونې او کاروبار برخه کې د افغان مهاجرو پانګه په نظر کې ونیســـو په ورځني ډول به ډیرې زیاتې پیسې د پاکسـتان هیواد په اقتصـادي سـکتور کې کارول کېږي، بناً په پاکسـتان هیواد کې د مهاجرو شـتون د پاکســتان لپاره یوه اقتصــادي ننګونه نه بلکې د یاد هیواد په اقتصــادي وده کې یې زیات رول تر سره کړي ده، خو بدبختانه د پاکسـتان هیواد په خپلو اقتصـادي محاسـبو کې دي مسـایلو ته هیڅ اشـاره نکوي، یواځې د افغان مهاجرو له لوري د پاکستان کومې منابع چې په مصرف رسیږي هغه نړیوالو او رسنیو ته وړاندې کوي.

همدارنګه د غرب تر اقتصـادي بندیزونو لاندې ایران هم د افغان مهاجرو له شـتمنیو څخه ډیره زیاته اقتصـــادي ګټه پورته کوي یعنې که په دي هیواد کې د افغان مهاجرو ورځنیو مصـــارفو او اقتصادي فعالیتونو ته وګورو په ورځني ډول په میلیونونو ډالر د ایران په اقتصادي سکتور کې په کار اچول کېږي، د اقتصادي فعالیتونو ورها خوا د ایران په هیواد کې اکثریت درنو او سختو کارونو په تر

سره کولو کې افغانان د کم مزد په مقابل کې کارول کېږي او دا کړنه یې د بشر ـــي نیرو له مخې  د ایران هیواد ته ډېره اقتصادي پریوځي.

**2-7-3: له ګاونډیو هیوادونو څخه د افغان مهاجرینو ایستلو طریقه او روش**

د پاکســتان له هیواد څخه چې  په کوم شــکل د افغان مهاجرو را ویســتلو لړۍ پیل او ادامه لري غیر اســلامي او غیر انســاني ده چې په ډېر وحشــت او ظلم سره دا پروســه پرمخ وړي حتی په هغه کمپونو کې چې مهاجر راټولوي صحي خدماتو، پاکو اوبو، وکیل نیولو، خپلې کورنۍ سره اړیکې نیولو او داسې نورو اساسي او بشر‌ي خدماتو ته هیڅ لاس رسی نلري، داسې موارد او ګزارشونه موجود دي چې د پاکستان امنیتي اداري په شپه کې د یو دښمن په شکل د افغان مهاجرو په کورونو چاپې وهې او د کورنۍ خلک لومړی زندان او بیا په ډېره بې رحمانه توګه د دیورند له فرضي کرښې را وباسي پداسې حال کې چې ټول کورني وسـایل، اموال، پیسې او هر ډول امکانات یې په کورونو کې تري پاتې شــوي دي، حتی داسې موارد هم شــتون لري چې قانوني اســناد لرونکي افغانان یې نیولې اســناد یې ورته له منځ وړي او له پاکســتان هیواد څخه یې راویســتلي دي، دا چې پاکســتان ولې په یو واري توګه دغه تصــمیم ونیوه زیات لامونه لري چې پورته مو په کافي اندازه بحث ورباندې وکړ خو بیا هم یادونه کوم چې مهم لامل یې د نړیوالو مرســتندویه ســازمانونو له لوري چې په پاکســتان هیواد کې د افغان مهاجرو لپاره کومې پیسې ورکول کیدې په هغه کې د پام وړ کمی راغلی او نړیوالو مرســتندویه ســـازمانونو توجه نن ورځ د نړۍ نورو ســـیمو ته اوښـــتې په ځانګړې توګه اوکرایني مهاجرو ته، همدارنګه د پاکسـتان له لوري د افغان مهاجرو څخه د افغان حکومت په وړاندې د سـیاسي فشـار واردولو په موخه هم دا ډول پریکړه ترسره کړې ده چې نن ورځ په ډېر ظالمانه توګه د ټولو نړیوالو اصولو او قوانینو خلاف د افغان مهاجرو د ایستلو لړۍ دوام لري.

د ایران په هیواد کې هم دغه ډول د مهاجرینو نیونې جریان لري او داسې شـواهد موجود دي چې د کورنۍ یؤ غړی بازار ته د غذایي توکو رانیولو لپاره راوتلی وي د امنیتي کسـانو له لوري نیول شـوی او افغانستان ته رد مرز شوی ده پداسې حال کې چې کورنۍ یې هیڅ معلومات ورڅخه نه لري او حتی د تلیفون له لارې د تماس نیولو اجازه هم نده ورکړل شـــوي په دې ډله مهاجرینو کې داسې افغانان

هم شــته چې یو ورځ یې هم په افغانســتان کې نده تیره کړې او نه خپل د اوســیدو ځای او کوم خپل خپلوان پیژني یعنې تولد یې هم ایران کې شــوی او لوی شــوی هم هملته دي خو په ډیره بې رحمانه توګه پرته له لومړنیو حقونو نیول او را ویستل شوی دي.

دا باید ومنو چې افغان مهاجر  که وغواړي او یا و نغواړي نور باید خپل هیواد ته راســـتانه شي ځکه په خپل هیواد کې د ټولو افغانانو عزت خوندي کیږي او بله لاره هم نشـــته خو دا پروســـه په تدریجي، دوه اړخیزې موافقې او نړیوالو اصـــولو په نظر کې نیولو سره تر سره شي، نه دا چې ګاونډې هیوادونه یواځې دا ادعا وکړي چې یاد مهاجر غیر قانوني دي او باید وویستل شي، حد اقل د ویستلو طریقه او روش یې باید قانوني تر سره شي، لومړني حقونه یې ورکړل شي، کورنۍ او اقارب یې خبر شي، د اموالو او توکو انتقال فرصت ورکړل شي، چې نن ورځ یې دغه ډول حقونه ټول تر پښو لاندې شوي دي چې د یادو هیوادنو دغه ډول کړنې د بشر ضد کړنې حسابیدلای شي.

**3: د ګاونډیو هیوادونو له لوري په یو واري ډول د مهاجرینو راویستولو اغیزې او عواقب**

دا چې د افغانســـتان دننه حکومت او ټولنه دې ته نه ده تیاره چې په یواري توګه د میلیونونو مهاجرو لپاره امکانات او ســـهولتونه برابر کړي نو د ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې توګه پاکســـتان پریکړه چې ټولو افغان مهاجر به خپل هیواد ته ستنوي او عملاً یې دا کار پیل کړی همدارنګه د ایران له هیواد څخه هم هره لحظه دا ډول تؤقعه کیدلای شي نو افغان حکومت او ټولنه به هم له یو لړ ستونزو او منفي عواقبو سره مخ کړي چې مهمې یې په لاندې توګه دي.

الف: په اقتصـــادي لحاظ د حکومت کمزورتیا او کافي امکاناتو نشـــتون یو له مهمو مؤضـــوعاتو څخه دي چې ټولو راستنیدونکو مهاجرو ته لومړني خدمات (خوارکي توکي، مسکن، صحي او تعلیمي خدمات...) په یوځایي توګه برابرولو برخه کې به حکومت له جدي ستونزو سره مخ کړي.

ب: دا احتمال شـــته چې راســـتنیدونکي اکثره مهاجر به له خپلو اصـــلي ولایتونو څخه په نورو ولایتونو کې میشـت شي او دا موضـوع احتمالاً چې سـیاسي او فرهنګي اختلافات او ناندرۍ د قومونو ترمنځ را پیدا کولای شي همدارنګه له دغه ډول تشې ـ به د اسـلامي امارت داخلي او بهرني مخالفین

او مغرزې کړی، غلطه ګټه واخلي او د تل په څېر به منفي تبليغات وکړي تر څو دا چاره د قومونو ترمنځ اختلاف رامنځ ته کړي.

ج: هغه مهاجر چې څو لسيزې مخکې له هيواد مهاجرت ته مجبور شوي او ګاونډيو هيوادونو ته تللي وه نن د هغوي دويم او دريم نســـل بيرته هيواد ته راســـتنيږي په خپل کلي او محل کې له ګڼو حقوقي ســتونزو سره هم مخ کيږي چې تر ټولو مهمه ســتونزه يې په ځمکو او جايدادنو باندې دعوې دي چې اکثريت يې يا ځمکه او جايداد نلري او يا يې که لري هم د محلي خلکو او بعضې. حالاتو کې د زور واکو لخوا غصب شوي دي، همدارنګه داسې افغان مهاجر هم شته چې نه تذکره او نه کوم بل ســند لري چې خپل هويت، غير منقول ملکېتونه په داخل د هيواد کې د هغو په واســطه ثابت کړای شي چې په حقوقي لحاظ د اسلامي امارت لپاره يو مهمه ستونزه شميرل کيدلای شي.

## 4: له ګاونډيو هيوادنو څخه د افغان مهاجرو باعزته راستنيدلو لارې چارې

دا چې نن ورځ ګاونډيو هيوادونو پريکړه کړې چې افغان مهاجر نور له خپلې خاورې وباسي، په حقيقت کې که وکتل شي دا کار د مهاجرو او افغانانو په خير هم ده، ځکه نور به افغان حکومت هم له پيغورنو او فشارونو خلاص شي او مهاجر به هم بيرته خپل ټاټوبي ته را ستانه شي، هغه خدمات او کار چې بهرنيو هيوادنو کې کوي خپل هيواد کې به يې ترسره او د هيواد په آبادۍ کې به رغنده رول ادا کړي، خو دا چې د مهاجرو ايستل د سياسي وسيلې په توګه کارول کيږي د ګاونډيو هيوادونه دغه ډول روش او کړنه د ټولو اســـلامي او بشرـــي قوانينو خلاف کړنه ده، دا چې څنګه د افغان مهاجرو راستنيدلو ته زمينه برابره شي په په لاندې جلا عنوانو کې ورته اشاره کوو.

### 4-1: هغه مسئوليتونه چې افغان حکومت پورې اړه لري

د دې لپاره چې مهاجر په باعزته او ښـــه توګه بيرته خپل کور ته راســـتانه شي نو يؤ ســـلســـله مسئوليتونه د اسلامي امارت ته متوجې کيږي چې بايد په جدي توګه ورته رسيدنه وکړي، او مهم يې په لاندې ډول دي.

الف: لومړی کار چې افغان حکومت يې ترسره کړي هغه دا ده چې تر هر څه مخکې يؤ با صلاحيته او مســـلکي پلاوی وګماري تر څو د مهاجرو په باعزته توګه راســـتنيديلو په موخه پاکســـتان او ايران

هیوادنو ته سفرونه وکړي، افغان حکومت نور باید د مهاجرینو د اوسیدو او په ګاونډیو هیوادونو کې د پاتې کېدو لپاره هغوی ته ننواتې او عذر ونکړي بلکې په تدریجي او باعزته توګه دې د افغان مهاجرینو په راستنیدلو توافقات سره وکړي، چې هم مهاجر په خپله خوښه او ټاکلي وخت خپل هیواد ته راستانه شي، هم یې منقولو اموالو ته د انتقال زمینه برابره شي او هم یې په کوربه هیوادونو کې د غیر منقولو اموالو سرنوشت تعین شي.

ب: دا چې افغانستان تازه له جګړو او ناخوالو راوتلی او نن ورځ له ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان ده، هغه ډول امکانات چې باید موجود وي د مهاجرینو د بیا ادغام او راستنیدلو برخه کې نشته په ځانګړې توګه داسې یو حالت کې چې په یو واري توګه د ګاونډیو هیوادونو له لوري د مهاجرینو راستنیدلو لړۍ پیل شوې ده چې د دوي دغه کړنه یو بل بشري ناورین په داخل د هیواد کې رامنځ ته کولی شي، د دغه ډول ناورین د کابو کولو په موخه باید یوه مسلکي او با صلاحیته کمیټه وګمارل شي چې په داخل د هیواد کې حکومتي او غیر حکومتي مرستې منسجمې او په نړیواله سطحه د ملګرو ملتونو سازمان په ګډون له نورو مرسته کونکو سازمانونو او موسساتو سره د همغږۍ او مرستو جلب کولو په موخه خبرې اترې تر سره او بشري مرستې راجلب کړي.

ج: د هیواد په داخل کې د حکومت، تجارانو او خیریه بنسټونو له لوري د مالي مرستو راټولولو په موخه یو ځانګړی کمیسیون جوړ او د راستنیدونکو مهاجرینو وضعیت ته د رسیدنې په موخه د لنډ مهال لپاره حد اقل (یو کال) د اوسیدو ځای، البسه، خوارکي توکي او نورو اولیه ضرورتونو په موخه اقدامات ترسره کړي.

د: په ټولنه کې راستنیدونکو مهاجرینو د بیا ځلي ادغام او دومداره اوسیدولو په موخه د ښارګوټو جوړل، د کار او کسب لپاره د زمینې مساعدول، د زراعت او کښت په موخه د ځمکې عادلانه ویشنې او داسې نورو اوږدمهاله برنامو په لاره اچولو لپاره پر وخت او عملي اقدامات تر سره کول.

و: تر ټولو مهمه دا چې د مهاجرینو وضعیت ته د رسیدنې په موخه د یو منظم پلان، او پالیسي- رامنځ کول دي چې له عادي حالت څخه نیولې بیا تر اضطراري حالت پورې د مهاجروینو وضعیت ته ځواب ویونکې اوسي، همدارنګه د اوږد مهال لپاره یوې کلي او اساسي حقوقي تګلارې او

چارچوکاټ روښانه کول دي چې د مهاجرینو لپاره د بیا ادغام ځایونو کې د کوربه سیمو ټولو ټولنیزو، قومي او فرهنګي مؤضوعاتو په نظر کې نیولو سره رامنځته شي.

## 4-2: هغه مسئولیتونه چې ګاونډیو هیوادونو پورې اړه لري

دا چې مهاجرت یواځې د څو ورځو او کلونو موضوع نه ده او نه هم یواځې د افغان مهاجرو شتون په نورو هیوادونو کې نن ورځ د بحث وړ خبر ده، بلکې مهاجرت یوه نړیواله او دوامداره مســـاله ده، نو ټول کوربه هیوادونه په ځانګړې توګه ګاونډي هیوادونه باید په ډېره حوصله مندۍ او دقت سره د افغان مهاجرو په وړاندې حد اقل د لاندې اصــولو له مخې رفتار تر سره او خپل مســئولیتونه ادا کړي.

الف: د ګاونډیو هیوادونو اســلامي، اخلاقي او بشرــي مســـئولیت ده چې افغان حکومت سره له رســـمي توافق وروســـته په تدریجي توګه د یو منظم پلان له مخې د مهاجرو د را ویســـتلو لړۍ پیل کړي، او کومه لړۍ یې چې پیل کړې د طرفینو هیوادونو تر توافق و ځنډوي، د مهاجرو له شـــتون نورې سیاسي او فشار واردولو په موخه استفاده ونکړي، چې په دې برخه کې بیا هم افغان لوری تر ډیره باید هڅه وکړي چې کاونډیو هیوادنو ته په هر ډول چې کېږي قناعت ورکړي.

ب: دا چې دا څلور لســـیزې ګاونډیو هیوادونو افغان مهاجرو ته پناه ورکړې وه دا کار یې د قدر او ســـتاینې وړه ده خو دا پروســـه باید په خوښۍ پای ته ورســـوي نه دا چې په وروســـتیو کې د میلمه او کوربه ترمنځ تیرې خوښۍ په تاریخي خفګان او دښمنۍ بدلې شي.

ج: هغه افغان مهاجر چې په ګاونډیو هیوادونو کې اوسیږي او په تدریجي توګه د ویســتلو تر وخته د ګاونډیو هیوادونو له لوري ټول محدودیتونه ورڅخه لرې شي، د توهین آمیزه کړنو او نیونو څخه یې مخنیوی وکړي، اساسي او ټولو بشري حقونو ته د لاس رسي زمینه ورته برابره کړي.

د: د افغان مهاجرو د راویســـتلو په وخت او زمان کې د ټولو بشرــي قوانینو په رڼا کې دي حقونه ورکړل شي، د مهاجرو ټول منقول او غیر منقولو اموالو سرنوشــت باید روښــانه او مهاجرینو ته یې د انتقال زمینه برابره کړي.

## 3-4: د افغان مهاجرو او بيرته راستنيدونکو برخه کې د نړيوالې ټولنې ونډه

دا چې مخکې مو هم يادونه وکړه افغانانو له هوس او خوشـــحالۍ مهاجرت ته مخه نه ده کړې بلکې همدا نړيوال وه (شــوروي، امريکا + ناټو) چې افغانان يې د خپلو وحشــيانه تيريو او تجاوزونو په نتيجه کې مهاجرتونو ته مجبور کړي وه، نو اوس هم يواځې د افغان حکومت مســـئوليت نده چې مهاجرو ته رســيدنه وکړي بلکې په حقوقي، اخلاقي او بشري لحاظه د نړۍ هيوادونه، ســازمانونه او خيريه بنســټونه مســئوليت لري چې د افغان مهاجرو په باعزته توګه بيرته راســتنيدنه کې په لاندې برخو کې مرستې وکړي.

الف: په لومړي سره کې هغو هيوادونو ته قناعت ورکول چې هلته افغان مهاجر ميشـــت دي په ځانګړې توګه پاکستان او ايران ته چې افغان مهاجر په ډله ايزه توګه له خپل هيواد څخه ويستلو ته په زور سره مجبور نکړي بلکې د مهاجرو د ايستلو لپاره په تدريجي توګه د طرفينو تر توافق وروسته ادامه ورکړي.

ب: په افغانستان کې د مهاجرينو بيا ميشت کېدو برخه کې له افغان حکومت سره بشري مرستې وکړي تر څو په خپل وخت او ښــه توګه د مهاجرو موضـــوع ته رســـيدنه وشي، په ځانګړې توګه اوسنيو حالاتو کې چې د پاکستان هيواد څخه د مهاجرو په زور سره ايستلو لړۍ پيل شوې ده.

ج: په افغان حکومت د بهرنيو محدوديتونو او بنديزونو لرې کولو په موخه بايد لازم اقدامات تر سره کړي په ځانګړې توګه اقتصـــادي برخه کې چې کوم محدوديتونه دي هغه بايد لرې شي ترڅو د مهاجرو بحران ته په وخت او مناسبه توګه رسيدنه وشي.

د: بشري مرســتې او د مهاجرينو بحران له ســياسي مســايلو بايد جلا او په دې برخه کې له منفي تبليغاتو او منفي ګزارشـــونو نشرــولو څخه ډډه وکړي او هغه حقايق او واقعيتونه چې موجود دي درک کړي.

## 5: له افغانستان څخه د بیا مهاجرتونو مخنیوي لارې چارې

دا چې نن ورځ په هیواد کې یو قوي او مرکزي حکومت حاکم ده او د ټولو خلکو غږ اوریدل کیږي همدارنګه ګاونډیو هیوادونو افغان مهاجر په ډیره بې رحمۍ په جبر او زور سره د راویســتلو لړۍ پیل کړې نو پکار ده چې د هیواد په داخل کې داسې مواردو باندې کار وکړو تر څو له یو طرفه راســتانه شـویو مهاجرینو وضعیت ته په ښـه توګه رسیدنه وشي او له بله طرف د هیوادوالو له بیا مهاجرت څخه په مشرـــوع او قانوني توګه مخنیوی وشي، تر څو په نورو هیوادونو کې د زلت او توهین آمیزه ژوند څخه خلاص وي په دي برخه کې لاندې اقدامات اړین بولم چې تر سره شي.

### 5-1: په هیواد کې د تل پاتې او سرتاسري امن او ټیکاو رامنځ ته کول

نن ورځ الحمدالله تر ډیره په ټول هیواد کې د سولې او امن فضا خوره ده او هیڅ شخص، ډلې او منافعو ته یې په امنیتي لحاظ کوم خطر نشـته حتی د نظام هغه مخالفین چې پرون ورسره په جګړه وه نن په سوله او امن کې ژوند کوي، خو دغه امنیت نه سترې کېدونکوو او دوامدار مبارزې او کړنو ته اړتیا لري، همدارنګه د امنیت تر څنګ ثبات یو له مهمو مؤضـــوعاتو څخه شـــمیرل کیږي چې معمولاً په بعضې‌ـــ حالاتو کې مونږ نن ورځ له پوره ثبات څخه برخمن نه یوو، د مثال په توګه د افغانســتان راتلونکی ســیاسي وضــعیت، اقتصــادي وضــعیت، تعلیمي مســایل او داسې نور چې د افغانســـتان اســـلامي امارت خپل ملت او خلکو ته باید په دي برخه کې د عملي اقداماتو په تر سره کولو ډاډ ورکړي تر څو د امنیت تر څنګ د خپل هیواد په ثبات او راتلونکي هم باورمند شي.

### 5-2: عامه پوهاوی

په دي برخه کې باید ټولو هیوادوالو په ځانګړې توګه هغو وګړو ته عامه پوهاوی او معلومات ورکړل شي چې له هیواد څخه د بهر تللو اراده لري او دا چاره د حکومتي چارواکو، رســنیو، علماوو، مدني ټولنو او ځوانانو له لوري باید په مخ ولاړه شي، هیوادوالو ته د مهاجرت زیانونه، ناخوالې او هغه څه بیان شي چې یاد افراد د مهاجرت په دوران کې ورسره مخامخ کیږي د مثال په توګه (د مهاجرت تر سره کولو لپاره د ډیرو زیاتو مالي مصــارفو په غاړه اخیســتل، د تر ټولو ســتر الهي نعمت یعنې ژوند له لاســـه ورکول، د عزت له منځه تلل او جنسيــ ځورونې، په مقصــد هیوادونو کې د

مهاجرت درخواســـت رد کیدل، د پناه غوښـــتونکو په کمپونو کې په نامعلوم او توهین آمیزه ډول د کلونو لپاره ســـاتل او پاتې کېدل، غیر قانوني کارونو ته مخه کول چې دا بیا په خپله نورې ډیرې ســتونزې لري، بیرته کور او خپل هیواد ته د راســتنیدولو امکاناتو نه موجودیت، د مقصد هیوادونو د عامه وګړو له لوري توهین، تحقیر او نه رضـــایت، د مقصـــد هیوادونو د حکومتونو له لوري د ښـــاري په توګه نه پیژندل او اســـاسي حقونو نه ورکول تر کلونو کلونو، د لارو ډیر لریوالی او خپلو کورنیو په غم او ښـــادۍ پروګراومونو کې د ګډون کولو امکان نه درلودل، او په نهایت کې د مهاجر وګړي عقلي قوې لـه منځـه تلـل روحي او رواني تکالیفو پیـدا کېـدل دي، دا هغـه څـه دي چې لـه حکومت نیولې بیا تر عامو افغانانو پورې د مختلفو برنامو، غونډو او ټولنیزو رســـنیو  په واســـطه هیوادوالو ته وړاندې او د مهاجرت نه کولو ته یې وهڅوي.

یو بل څه ته هم باید یادونه وکړم هغه دا چې که یو تعداد وګړي پورته ټول خطرونه په غاړه واخلي او مقصد هیواد ته ځان ورسوي بیا هم زما په اند د دنیا او اخرت مسئولیت او تکالیف ور له غاړې کېږي هغه په دوه دلایلو: 1) د دنیا تکالیف یې همدا وه چې پورته مو یادونه ورڅخه وکړه سمه ده چې تر ډیرو تکالیفو تیرولو به یې په مادي لحاظ په ژوند کې ډیر تغیرات راغلي وي خو دا نړۍ یوائې د مادیاتو او پیســـو ګټلو ځای نه ده. 2) دوهم داچې په دیني او شرعي لحاظ که وکتل شي لومړی خو خپله همدا مهاجر تر ډیره له اســـلامي فرهنګ او روزنې لري کېږي په ځانګړې توګه د غربي هیوادونو مهاجرین، له ځان څخه یې ورهاخوا دویم او دریم نسـل باالخصـوص هغه اولادونه چې په غربي ټولنه کې تولد کېږي اکثریت یې له اســـلام او دیني شـــعائرو لري روزل کېږي چې د دنیا او اخرت مسئولیت به یې د هغه چا په غاړه وي کوم چې دا فرصت او زمینه یې ورته برابره کړې ده.

نو د یادو ستونزو د مخنیوي په برخه کې د حکومت مسولېت هم جوړیږي چې ټول هیوادوال په دغه ډول دنیوي او اخروي زیانونو و پوهوي.

## 5-3: د تعلیمي نهادونو تقویه او کاري فرصتونو برابرول

د تعلیم تر لاسه کول یو له دیني فریضو او اوسني عصر ـ له مهمو اړتیاوو څخه شمیرل کېږي، چې ښه بیلګه يې زمونږ لارښود مقدس کتاب (قرانکریم) ده چې د علم په ترلاسه کولو سره پیل شوی، نو اوســـنی حاکم نظام هم دا مســـئولیت لري چې په تعلیمي برخه کې ډېر څه وکړي دا چې تعلیمي اداري فعاله دي یواځې فعالیت يې کفایت نکوي بلکې په تعلیمي مراکزو کې د کمیت تر څنګ اساسي موضوع د کیفیت ده او حتی ویلای شـم چې نن ورځ په ډیرو سیاسي او نظامي معادلاتو او برخو کې تر ډیره د کمیت په ځای په کیفیت محاســـبه کېږي بناً زمونږ علمي نهادونه لا ښې توجه، پراختیا او ودې ته اړتیا لري چې د نني عصر ـ له ټولو پیښیدونکو مؤضوعاتو سره باید متناسب وي په ځانګړې توګه د دیني علومو تر څنګ عصري علومو ته لا ډېر توجه تر سره شي او هغه تصویر چې د نړیوالو، رسنیو او عامه وګړو په منځ کې خپور شوی چې د دیني او عصري زده کړو تر منځ زیات واټن موجود ده، عصر ـي زده کړو ته توجه نکېږي دغه واټن باید له منځ یوړل شي او په عملي توګه په دې برخه کې لا زیات کار وشي په ځانګړې توګه د ښځو په برخه کې د تعلیم او تحصیل زمینه برابرول يې یو له مهمو اقداماتو څخه دي چې باید ترسره او هغه بهانه له منځه ولاړه شي چې اکثریت وګړي ورته اشاره کوي او وايي چې د اولادونو د تعلیم او تحصیل لپاره مهاجرت کولو ته اړ ایستل شوي یوو.

## 5-4: د حکومت او خلکو تر منځ د فاصلو له منځه وړل

یو له مهمو شـــعارونو او کلمو څخه چې هر نظام يې د ځان د بقا لپاره کاروي دا کلمه ده چې مونږ د ملت له منځ یو، ملت مو تر څنګ ده، د ملت خادمان یو او داسې نور... خو په عمل کې د دې ډول شـــعارونو پلي کول یو څه ســـتونزمن دي او تر هغه چې یو مبارزه ډله قدرت ته نوي رســـیدلې دغه ډول شـــعارونه يې په ژبه ډېر جاري وي مګر وروســـته د قدرت له ترلاســـه کولو هغه پخوانۍ وعدې او شعارونه یوه افسانه پاتې کېږي اوسنی حاکم نظام باید دغه افسانه په حقیقت بدله کړي او پرېنږدي چې د ملت او حکومت تر منځ واټن رامنځ ته او پراخ شي دا یو معلوم حقیقت ده چې تر هغه ملت د حکومت ملاتړ وکړي حکومت هم بقا کوي او که ملت له حکومت مخ واړاوه بیا نو د حکومت موجودیت هم تر سـوال لاندې راځي چې په افغانســتان کې دا ډول حالات تاریخ ډېر ښـه

روښـــانه کړي دي، د حکومت او خلکو تر منځ د واټن را منځ کېدلو عوامل مختلف دي چې په دي مقاله کې يې د ليکلو فرصــت نشــته خو دومره بايد ووايم د ملت هغه غوښــتنې او تقاضــاوې چې د اســـلامي شرعيت او افغاني کلتور سره په تقابل کې واقع نوي او حکمرانانو له لوري په خپل وخت او زمان توجه ورته ونشيـ نو دا په خپله د ملت او حکومت تر منځ واټن ته لاره هواروي چې اســلامي امارت بايد پدې برخه کې عملي او جدي ګامونه پورته کړي.

**يادونه! د حکومتونو بقا او پنا سرکل يا دايره:** ـ که چيري ســوال داسې مطرح کړو چې حکومتونه ولې او کله له منځه ځي؟ د دي سوال ځواب کې لومړی حکومت د يؤ سيستم په بڼه ترسيم کوو، او ســيســتم داسې تعريفوو (ســيســتم عبارت له يؤه ډله برخو او اجزاو څخه ده چې ټولې برخې يې يؤ له بل سره په همغږې توګه کار او فعاليت کوي که چېرې د ياد ســيســتم په يؤه برخه کې ســتونزه رامنځ ته شي ټول ســـيســـتم له خنډ او خطر سره مخ کوي) حکومت او حکومتدارى هم همداسي يو سيستم ده چې ټولو برخو کې يې بايد پوره همغږي موجوده وي او دقت سره يې امورات تر سره شي.

اصلي موضوع ته راځو هغه دا چې د يؤه نظام سياسي سيستم له کومو برخو تشکېل شوی ده؟ څنګه کار کوی؟ او کوم حالت کې له منځه تللی شي؟

هر سياسي سيستم له درې مهمو برخو جوړ شوی ده چې عبارت دې له!

الف- روندونه او جريانونه: دا جريانونه په خپل ذات کې په دو برخو ويشـل کېږي. **1**- غوښــتنې او تقاضــاوې: يعنې د ټولنې غوښـــتې، اړتياوي او احســاســات دي چې له ســاسي نظام څخه د هغو د اوريدو، منلو، او د هغو پر بنياد د پريکړو او تصـميم نيولو هيله لري يا په بله معنی د خلکو غوښــتنې د آزادي، امنيت، عدالت، مشــارکت، خدماتو ته لاس رسې او داسې نورو برخو کې له ســياسي نظام او ســـيســـتم څخه دي. **2**) ملاتړ او حمايت: د ســـياسي حاکم نظام د پلويانو، ملت او هيواد د اوسيدونکو د ملاتړ کچه روښانه کوي چې له سياسي نظام څخه يې تر سره کوي چې په دې لړۍ کې هغوی د سياسي نظام او سيستم د کارونو ننداره کونکي شميرل کېږي، او ګوري چې آيا ښه لوري ته ځي او که خراب لوري تــه؟ آيا زمونږ ملاتړ او حمايت تــه احترام کېږي او کــه غلطه ګڼه ورڅخه

اخیستل کېږي؟ او داسې نور، دغه ډول ملاتړ او حمایت هم د سیاسي نظام په کچه، هم د حاکم ګوند یا رژیم په کچه او هم په حاکم رژیم کې د افرادو په کچه د وګړو لخوا تر سره کېږي.

ب- سیاست جوړونه او تصمیم نیونه: د یؤ حکومت په سیاسي نظام کې د حاکم رژیم لخوا ټول تصمیمونه او سیاست جوړونه لازمي ده چې د ملت او پیروانو د غوښتنو، رضایت او ملاتړ کچې په نظر کې نیولو سره تر سره شي اوکه چیرې داسي و نشوه نو منفي عواقب رامنځ کوي چې د سیاسي سیستم په دریمه برخه کې ورته اشاره کوو.

ج- فیدبک یا عکس العملونه: فیدبک یا عکس العملونه معمولاً د ټولنې او ملت له لوري تر سره کېږي او دوه اړخونه لري **1**) مثبت فیدبک: په دې معنی چې که چېرې د حکومت او سیاسي سیستم پریکړې او تصامیم د ملت او ټولنې له غوښتنو، رضایت او ملاتړ کچې په نظر کې نیولو سره ترسره کېدلې په دي صورت کې سیاسي نظام او سیستم دوام، بقا او پرمختګ کوي. **2**) منفي فیدبک: ولې که چېرې د سیاسي نظام چلونکو لخوا د حکومت سیاسي پریکړې، تصمیمونه او سیاست جوړونه د ټولنې، ملت او پیروانو د غوښتنو، رضایت او ملاتړ کچې سره برابر او متناسب حالت کې نه بلکې د خپلو علایقو، منافعو، او مزاجونو په اساس ونیول شي، دغه ډول سیاسي سیستم او نظام تر ډېره دوام او بقا نشي ـ کولاې، چې په دې صورت کې به حتمي د ټولنې، ملت او پیروانو له مخالفت، عکس العمل، سیاسي پاڅون او بالاخره له منځه تلو سره مخ کېږي.

## 5-5: په لوړ رتبه بستونو کې د صادقو او مسلکي کدرونو ګمارل

د لوړ رتبه او مهمو بستونو په شمول په مختلفو برخو کې د کاري زمینې برابرول هم له اساسي مسایلو څخه ده چې حکومت باید توجه ورته وکړي په ځانګړې توګه هغه لوستي ځوانانو او کدرونه ته چې جهادي سابقه نلري ولې دین او وطن ته د خیانت سابقه هم نلري نو داسې ځوانانو او کدرنو څخه باید د هیواد په ابادۍ کې په عظمي توګه استفاده وشي تر څو له یو طرفه د دښمن او بهرنیو کړیو د منفي تبلیغاتو مخنیوی شوی وي او له بله طرفه د خلکو او اسلامي امارت تر منځ په دي برخه کې چې کوم واټن شتون لري هغه له منځه ولاړ شي.

## 6: فرصتونه او ننګونې

د یو پلان او برنامې عملي کونکي حکمي او حقیقي اشـخاص معمولاً د خپل پلان د پلي کولو برخه کې هم فرصـتونه او هم یو لړ سـتونزې او ننګونې لري د دې لپاره چې سـتونزو ته په وخت رسـیدنه وشي نو پوهې او تدبیر ته اړتیا لري د مهاجرینو د وضعیت په کابو کولو کې هم نن ورځ اسلامي امارت له یو لړ سـتونزو سره مخ ده خو له سـتونزو څخه د خلاصـون لپاره فرصـتونه هم په واک کې لري، دلته به په دوه بیلو بیلو برخو کې په فرصتونو او ننګونو لنډه رڼا واچوو.

### 6-1: فرصتونه

هغه فرصـــتونه چې اوســـنیو شرایطو کې په افغانســـتان کې شـــتون لري په لاندې ډول دي او د مهاجرینو په راتګ او بیا میشت کېدو کې مهم شمیرل کېدلای شي.

#### 6-1-1: د اسلامي امارت د قوي عزم او ارادې موجودیت

دا چې اســلامي امارت نن ورځ په نړیواله کچه له ګڼو ســیاسي او اقتصــادي چلنجونو سره مخ ده خو بیا هم د خپلو وګړو د دفـاع او ملاتړ پـه موخـه قوي عزم او اراده لري هغـه کـه پـه ګاونـډیو هیوادونو کې وي او که د نړۍ په نورو هیوادونو کې بناً هیواد ته د مهاجرو بیرته راستنیدلو لپاره عامه فضا او ذهنیت برابر او حکومت هم خپل پوره چمتوالی ښودلی ده.

#### 6-1-2: د افغان حکومت او مهاجرینو مجبوریت

له عنوان څخه داسې بریښي– چې دا یوه ســـتونزه ده خو زه یادې ســـتونزې ته د یو فرصـــت په ســـترګه ګورم او هغه متل چې وایي (پردې کټ تر نیمې شـــپې وي) ورڅخه یادونه کوم په بله معنی زمونږ مهاجر ورونه که په هر هیواد کې وي د باعزته ژوند لپاره یواځې یوه لاره لري چې هغه خپل هیواد کې ژوند کول دي او بس پس چې یواځې همدا یوه لاره لرو نو هم دولت له نورو بدیلو لارو چارو راګرځي او هم مهاجرین په نورو لارو فکر نشي– کولای پس ویلی شـــو چې له خپله مجبوریته باید د یو فرصـــت په توګه کار واخلو او په دې فکر وکړو چې څنګه په خوندي او باعزته توګه خپل مهاجر خپل هیواد ته راستانه کړو او د هیواد په آبادۍ کې لاسونه سره ورکړو.

### 6-1-3: په هیواد کې د مرکزي حکومت او سرتاسري حاکمیت موجودیت

نن ورځ الحمدالله په ټول هیواد کې یو قوي او مرکزي حکومت شتون لري دا چې یو لړ ستونزې به هم وي خو د نا امنۍ، باج ګیریو، غصب او ظلم کولو جرئت کوم شخص او ډله نلري نو ټولو افغانانو ته د ارام ژوند کولو زمینه برابره ده او له دغه فرصته مهاجرین هم باید پوره ګټه واخلي تر څو په خپل هیواد کې په ارامه او هوسا توګه بدون له کومې ویرې، تیري او ظلم څخه ژوند وکړي.

### 6-1-4: له ګاونډیو هیوادو څخه د مهاجرینو په زور سره ویستلو مقابل کې له خپلو طبعي منابعو د متقابل عکس العمل په توګه کار اخیستل

له ګاونډیو هیوادونو سره د نړیوالو قوانینو مطابق عکس العمل یو تر ټولو ښه اقدام ده تر څو بیرته د هغه ګاونډیو په وړاندې وکارول شي چې د نړیوالو اصولو او قوانینو خلاف افغان مهاجر په زور سره له خپلې خاورې راوباسي او یا هم افغان مهاجر په افغان حکومت د غیر مشروع غوښتنو منلو لپاره د فشار یوې وسیلې په توګه کاروي تر څو یې په سیاسي معادلاتو کې غوښتنې ومنل شي نو د هغوي په وړاندې مونږ هم داسې د فشار وسیلې په واک کې لرو چې په ګاونډیو هیوادو فشارونه وارد کړو، په دغسې مواردو کې له هغو څخه ګټه واخیستل شي، باید یادونه وکړم چې مونږ سره په واک کې تر ټولو مهمه او ښه د فشار وسیله چې دواړو ګاونډیو هیوادونو په وړاندې وکارو د خپلو اوبو مدیریت او کنترل ده او دا کار په ډیره ښه توګه عملي او مدیریت کېدلای هم شي هغه په دي ډول چې حکومت صرف اقدام وکړي ولس به یې سل سلنه په څنګ کې ودریږي حتی داسې افغاني غیرتي میرمنو پیغامونه مو ترلاسه کړي چې د خپلو ګاڼو خرڅولو ته تیارې دي تر څو د اوبو بندونه ورباندې جوړ شي، د دي ترڅنګ په اقتصادي او امنیتي برخو کې هم ګاونډي هیوادونه مونږ ته ډیره اړتیا لري چې په دي برخه کې اړونده کارپوهان او مسئولین ډیر ښه پوهیږي.

### 6-1-5: افغان مهاجرو له علمي کدرنو او سرمایو څخه موثره استفاده

بله مهمه موضـوع دا ده  چې کوم افغانان په ګاونډیو هیوادنو کې مهاجر شـوي او نن ورځ په زور سره راویسـتل کېږي په یادو مهاجرو کې په زرهاوو داسې افغانان شـته چې په نړیواله کچه یې د طب، انجنیري، تکنالوژي، سـوادګري او نورو برخو کې تحصـیل او تخصـص کړی نو د دوي له علمي او تخصصي. تجاربو او پوهې څخه باید په ښـه توګه ګټه واخیسـتل شي، عزت او درناوی یې وشي د کار زمینه ورته برابره شي، همدارنګه په یادو هیوادونو کې دافغان مهاجرو په میلیونونو ډالرو سرمايې موجودي دي چې د افغانسـتان اقتصـادي ودي لپاره یو فرصـت ده، د دوي له سرمایو او شـتمنیو د قانوني انتقال لپاره باید جدي او اساسي کار تر سره شي با وجود د دې چې دا به یو ننګونکې او سخته پروسه وي خو جدي کار ته اړتیا لري.

## 6-2: ننګونې

دا ذهنیت باید ونلرو چې افغان مهاجر دي د تل لپاره مهاجر وي، او هیواد کې شرایط ندي برابر، امکانات نشــته او یا نورې بهانې بالاخره یؤ وخت به ټول افغانان انشــاالله خپل مهاجرت ته د پای ټکې ږدي او هیواد ته به راســتنیږي خو دا راســتنیدل به خامخا له یؤ لړ ســتونزو سره مل وي په ځانګړې توګه اوسنیو حالاتو کې چې مهم موارد یې په لاندې ډول دي.

### 6-2-1: په یو واري توګه د مهاجرینو په زور راویستل او کوربه ټولنو باندې تاثیرات

د افغان مهاجرو خپل هیواد ته تر راســتنیدنې وروســته یؤه مهمه ننګونه دا ده چې خپلو اصــلي مناطقو ته د امکاناتو نشتون له وجې هلته نه ستنیږي او په یو بل ولایت او محل کې ژوند اختیاروي چې دا په خپله نورې ټولنیزې ســتونزې را منځ ته کوي مهاجر له مهاجرت څخه خلاص ولې په داخلي بیځایه شــویو بدلیږي، او تر هغه چې د دوي دا ډول ادغام ته په کوربه ټولنو کې ذهنیت جوړونه نوي شوي ډیر قومي او ټولنیز مشکلات را منځ ته کولای شي.

### 6-2-2: د هیواد په داخل کې د امکاناتو کمښت

افغانستان تازه د څلورو لسیزو له جګړو څخه راوتلی ده چې په دي لړ کې یې د سیاسي بی ثباتي په ګډون اقتصــادي بی ثباتي هم لیدلې او له ډیرو مشــکلاتو سره مخ ده، په داسې حالاتو کې د ګاونډیو

هیوادونو ظالمانه اقدام چې په ډله ایزه توګه یې افغان مهاجر له خپلې خاورې په زور سره راویستلو لړۍ پیل کړې، په داخل د هیواد کې دغه اقتصادي بې ثباتي لا ژور او خطرناک حالت ته ورلای شي پدې معنی چې حکومت په هغه اندازه چې لازمه ده امکانات په واک کې نلري چې ټولو راستنیدونکو مهاجرو ته په یؤ وخت کې رسیدنه وکړي او تر ډیره دغه اتکا په نړیوالو نهادونو او موسساتو ده.

**6-2-3: د نړیوالو له لوري د حکومت په رسمیت نه پیژندنه (سیاسي انزوا)**

له یو طرفه د ګاونډیو هیوادونو څخه د مهاجرو راویستل په حکومت فشار زیاتوي او له بله طرف د اسلامي امارت په رسمیت نه پیژندنه او سیاسي انزوا هغه څه دي چې حکومت یې له مشکلاتو سره مخ کړی یعنې د دغه بندیزونو په شتون کې د لوړ رتبه حکومتي مقاماتو غږ په نړیواله سطحه نه اوریدل کیږي، مستقیماً له مرسته کونکو هیوادنو، ملګرو ملتونو او نورو سازمانونو سره تماس نشي. نیولی او دا کړنه د بشرپالو یو تر ټولو ستره بشر ضد کړنه ده چې د افغانانو په وړاندې یې تر سره کوي.

**6-2-4: نړیوال بندیزونه او سترو پروژو نه پلي کیدل (اقتصادي انزوا)**

د سیاسي انزوا تر څنګ د افغانانو اقتصاد کنګل کول، نړیوالو بازارونو ته د هوا او اوبو له لارې نه لاس رسی، د پیسو لیږد او رالیږد برخه کې بندیزونه، مرستندویه نهادونو (نړیوال او سیمه ایزو بانکونو) مرستو نه تر سره کول هغه څه دي چې د مهاجرو د بحران مهار کولو برخه کې حکومت له ستونزو سره مخ کولای شي.

**6-2-5: د مهاجرو د بیرته راستنیدلو لپاره د یو منظمې او هر اړخیزې پالیسي نه موجودیت**

بله مهمه موضوع چې اسلامي امارت پورې اړه لري هغه د یو اوږمهاله او هر اړخیزي پالیسي او حقوقي چوکاټ نه موجودیت ده چې د مهاجرو برخه کې ورڅخه استفاده وشي په دې معنی چې افغان مهاجر کله چې په خپله خوښه یا زور په تدریجي یا ډله ایزه توګه له نورو هیوادونو څه راویستل کیږي په اوږد مهاله کې د دوی مدغم کیدل په ټولنه کې باید څنګه وي؟ زراعت او کرنې ته باید څنګه لاس رسی ولري؟ په ځانګړې توګه هغه مهاجر چې په لسیزو مهاجر وه او خپل هیواد کې هیڅ د معیشت برابرولو منبع نلري، د هغو حقوقي مسایلو ته په کوربه هیوادونو کې څنګه رسیدنه

وشي؟ منقول اموال یې څنګه را انتقال شي؟ په داخل د هیواد کې د ځمکو ویش او مدغم کېدل یې د کومو قانوني سندونو په رڼا کې تر سره شي؟ قومی نزاعګانو او اختلافاتو ته یې څنګه رسیدنه وشي؟ دا او دې ته ورته نورې ستونزې هغه څه دي چې په قانوني او حقوقي لحاظ له تشې سره مخ دي.

## 7: حل لارې او وړاندیزونه

د راستنیدونکو افغان مهاجرینو وضعیت ته رسیدنې په موخه یو لړ حل لارې، وړاندېزونه او سپارښتنې په لاندې څو برخو کې بیانوم.

الف: افغان حکومت باید په ډېر دقت سره د مهاجرینو راستنیدلو پروسه وڅاري ځکه له پاکستان څخه د راستنیدونکو مهاجرو په ډله کې د ورانکارو عناصرو او استخباراتي اجنداو په مخ وړلو لپاره د مهاجر په نوم د افرادو رالیږلو احتمال موجود ده نو په همدې اساس دیادې پروسې مدیریت هم له بشري نګاه او هم له امنیتي نګاه اسلامي امارت ته یو مهم چلنج کیدلای شي چې باید په ښه او مدبرانه توګه یې مدیریت کړي.

ب: دا هم یو حقیقت ده چې راستنیدونکو مهاجرینو سره د مرستو برخه کې د اسلامي امارت مالي او مرستو تر سره کولو اتکا تر ډېره په نړیوالو موسساتو او نهادونو ده، دغه انګیزه او رویه باید تغیر وکړي یا په بله معنی اوسنی نظام داسې فکر کوي چې افغان مهاجرو ته د رسیدنې ډېر مسئولیت موسساتو ته راجع کېږي پداسې حال کې چې اصلي او محوري رول باید دولت تر سره کړي او فرعي رول د موسساتو وي نو ددي لپاره قوي او منظمو برنامو او پالیسیو جوړولو ته اړتیا ده چې اسلامي امارت باید دا کار په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي۔ د مثال په توګه د راتلونکو مهاجرینو لپاره د ځمکو ویش د یو منظم پلان له مخې  چې ټولنیزې او قومي ستونزې راولاړې نکړي، د کار زمینه برابرول، د لنډ وخت لپاره د هغوی لاس نیوی او اوږدمهاله کې د هغوي لپاره د ژوند د معیشت برنامو برابرول او داسې نور.

ج: افغان حکومت په ځانګړې توګه د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د ایران او پاکستان هیواد څخه د افغان مهاجرو د راویستلو په اړه باید یو پلاوی یادو هیوادونو ته ولېږي تر څو هغه افغانان چې په غیر قانوني توګه هلته ژوند کوي او یاد هیوادونه یې د راویستلو اراده لري په باعزته

توګه د راویســـتلو زمینه برابره کړي او حد اقل د ژوند د لومړنیو حقونو د تامین په برخه کې مرســـته ورسره وکړي.

د: له خپلو طبعي او غیر طبعي منابعو او نور د فشـار له نقطو څخه د ګاونډیو هیوادو په وړاندې د نړیوالو قوانینو مطابق د متقابل عمل په توګه اســـتفاده کول یؤ لازمي کار ده چې تر سره یې کړي د مثال په توګه د خپلو اوبو مدیریت او بندونو رغاونه چې ګاونډي هیوادونه به په اتومات توګه د خبرو میز ته راکاږي، د پاکستان او ایران له لوري همیشه افغانستان ته د خپل اقتصادي مارکیټ په توګه کتل کیږي په دي برخه کې د محصول، تعرفو او ګمراکاتو لوړول هم یوه لاره کېدلای شي خو دا کار هغه مهال شـــونی ده چې خپلو داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکړل شي او حمایت یې وشي، همدارنګه نن ورځ په امنیتي برخه کې ګاونډي هیوادنه افغانســـتان ته تر بل هر وخت ډیره اړتیا لري چې افغان حکومت باید په ډیر ځیرکانه ډول ګاونډي هیوادونه له دي نقطې تر فشار لاندې راولي، د مثال په توګه په ځینې حالاتو کې د ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې توګه د پاکســـتان له لوري د امنیتي مؤضوعاتو د بحث لپاره د لوړ رتبه هیتونو رالیږلو سره د افغان لوري نه موافقه او په دي برخه کې د مذاکراتو رد کول تر څو هغه غوښتنې چې افغان لوری یې لري هغوي ورته غاړه کیږدي او داسې نور.

و: هغه افغان مهاجر چې په لســـیزو مخکې مهاجر شـــوي، نن ورځ په زور له ګاونډیو هیوادنو راویستل کیږي او په داخل د هیواد کې د هغو په ځمکو او غیر منقولو اموالو حقوقي دعوې موجودي وي یا بعضې یې اصلاً ځمکه او جایدادونه ونلري حتی ځینې یې د افغانستان تذکره او نور اړین اسناد ونلري چې خپل هویت، ملکیت او اموال ورباندې ثابت کړي د دغه ډول مســـایلو لپاره یؤ ځانګړې حقوقي او قضـایې کمیســیون باید وګمارل شي تر څو دي او دیته ورته نورو مؤضـوعاتو ته رسـیدنه وکړي.

# پایله

د مهاجرت په برخه کې اصلي برخه د مهاجرینو انساني او بشري حقوق تشکیلوي یا په بله معنی د مهاجرینو د حقونو هسته انساني حقونه دي چې باید مراعت شي.

د مهاجرینو د حقونو ورکړه ډېره تاریخي مخینه لري چې پخوا به د هیوادونو لخوا بدون له دي چې سیاسي مسایل په پام کې ونیول شي یواځې د انسان دوستۍ له مخې په نظر کې نیول کېدل ولې نن ورځ د مهاجرینو له شتون په کوربه هیوادونو کې د هغوي د متبوع دولت په وړاندې د فشار او خپلو غوښتنو د منلو یؤې وسیلې په توګه ګټه اخیستل کېږي چې بدبختانه د افغانستان ګاونډي هیوادونه په ځانګړې توګه پاکستان او ایران د تاریخ په مختلفو پړاونو کې د افغانستان د مختلفو نظامونو په وړاندې له دا ډول چلند څخه استفاده کړې ده، بنأ د افغانستان اوسنی حاکم نظام د ګاونډیو هیوادونو دغه ډول کړنو ته باید په ډېر دقت سره وګوري.

افغان حکومت ته ښايې چې له خپلو ټولو شته فرصتونو او امکاناتو په ګټې اخیستنې سره دا توجه او هڅه وکړي چې نور افغان مهاجر د ګاونډیو هیوادونو له لوري د فشار د وسیلې په توګه له کارولو څخه خلاص کړي، د هغوي د باعزته راستنیدلو حل لارې چارې برابرې او ذیدخله ملي نهادونو او نړیوالو سازمانونو سره په همغږۍ عمل تر سره کړي، تر څو له یو طرفه ګاونډیو هیوادونو سره د سیاسي تعامل او دریځ نیولو په وخت کې دغه د کمزورۍ نقطه نور له منځه ولاړه شي، او له بله پلوه خپل وګړي خپل هیواد کې خوندي کړي د هغوي له امکاناتو تجاربو سرمایو او کاري وړتیاوو د هیواد په بیا راغاونه او آبادۍ کې مثبته او مشروع ګټه واخلي.

وَ مَا عَلَيْنَآ اِلَّا اْلْبَلَاغُ اْلْمُبِينُ

## د ماخذونو لړلیک


1. ابراهیمی، سید نصرا، 1393، حقوق بین الملل خصوصی، تهران، انتشارات سمت.
2. خالوزاده، سعید، 1394، حقوق دیپلماتیک و کنسولی، چاپ 4، انشتار، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه های سمت، مرکز تحقیق و توسعه علوم انسانی، تهران.
3. ضیایی بیگدلی، محمد رضا، 1390، حقوق بین الملل عمومی، تهران، انتشارات کنج دانش.
4. نیکفر، محمد رضا، 1394، آوارگی و شکستن ساختار تیوری سیاسی، سایت رادیو زمانه.
5. شریعت پناهی، سید ابوالفضل قاضی، 1395، حقوق اساسی و نهادهای سیاسی، تهران، ابرابرمعاصر.
6. خسرو، حسن، 1389، حقوق انتخابات دیموکراتیک، تهران، مجد.
7. موسی زاده، رضا، 1391، نړیوال سازمانونه، تهران.
8. پژمان، اسدالله، 1394، وضعیت بازگشت کننده گان در افغانستان، ناشر، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان.
9. کلانتری، صمد و خلیلی، عبدالرسول، فصلنامه تحقیقات سیاسی و بین المللی، دانشگاه آزاد اسلامی، واحد شهرضا، شماره سوم، تابستان 1389.
10. جلیل پیران، علی کرم، 1400، جایگاه بیگانه گان و مهاجران در حقوق اسناد بین المللی و منطقه ای با تاکید بر کنوانسیون، 1951، حقوق پناهندگان.
11. وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، پالیسی ملی بیجاشدگان داخلی، سال 1392.
12. استراتیژی انکشاف ملی افغانستان، استراتیژی سکتور مهاجرین، عودت کننده گان و بیجاشده گان، 1391-1397.
13. کمیته اجرایي بیجاشدگان و عودت کنندگان، وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان، چارچوب پالیسی برای عودت کنندگان و بیجاشدگان، مارچ 2017.
14. کنوانسیون مربوطه به وضع پناهندگان، مصوب 28، جولای سال 1951، جنیوا.
15. اصول رهنمودي ملل متحد در مورد بیجاشدگی داخلی، سال 1388.
16. سایت ویکي پدیا، گزارش ویژه سازمان عفو بین الملل.
17. سایت ویکي پدیا، جنگ امریکا در افغانستان (2001 الی 2014) قابل دسترس در لینک: https://fa.m.wikipedia.org/wiki/

18 .کنوانسیون های روابط دیپلماتیک وکنسولی سالهای، 1961 و 1963.
19 .خبر گزاری رادیو آزادي قابل دسترس در لینک:
http://www.da.azadiradio.com/a/32620480.html.
20 . خبر گزاری صدای افغان (آوا)، سرویس تحلیل و پژوهش اخبار، قابل دسترس در لینک:
http://www.aa.com.tr/af/ 8
21 . بیلابیل انترنتي سایټونه.
22 .د لیکونکي خپل تحلیل، علمي تجارب، د ایران هیواد څخه د راستانه شویو افغان کډوالو سره مرکې او د هغوې لیدلی حالت.